محمد ایاز نوری
۱/۰۵/۲۰۱۰

شاغلي ډاکټر صفی الله صاحب زاده ته...

پس سلام او ښو هیلو څخه، په عرض رسوم، چي ستاسو د ۲۷/۰۴/۲۰۱۰ لیکنه مي د (افغانستان آزاد – آزاد افغانستان) له پورتال څخه کاپی او والاحضرت ډاکټر صاحب احسان الله خان (د افغانستان) او محترم سردار کبیر الله خان (سراج ) ته د پوست په ذریعه ورولیږل. هغوی (آدم های قدیم) دي، نه کمپیوټر سره تماس لري او نه ایمل سره...

زه ستاسو ملي احساس تقدیر کوم او تاسو یوي خورا ارزښتمندي موضوع ته پاملرنه کړي او هغه د اعلیحضرت مرحوم غازي امان الله خان خپل شخصي نظریات او د حقایقو عرضه کول دي. داسي سندونه، چي هغه هم د لومړي لاس یعني پخپله د غازي اعلیحضرت په ذریعه لیکل شوي وي، سبب د دي کیږي، چي افغان قهرمان ملت د خپل هیواد د تیر شوي تاریخ یوي ډېري د اهمیت وړ دوري په باب، حقیقت ته ورسیږي. البته طبعا د امانی دوري د ربښتیا موندني په نتیجه کي د افغانستان ټپي ولس خپل معین عبرت له تاریخي پېښو څخه اخلي او اوسني او راتلوونکي افغان نسلونه به د خپل راتللونکي برخه لیک لپاره دا اسناد په ځیر سره مطالعه کوي.

تاسو پخپله لیکنه کي د خپل ملي احساس پر وجهه د طلایي خاندان او نادر خان د انګریز غلامه کور څخه یاد کړئ دئ. زه تاسو سره موافق یم، چي د غازي امان الله خان له خوا د خپل د یاداشتونو د خپریدو ځنډول او خپلي کورنی ته یي د خطر او مشکل څخه ذکر کول د نادری د خبیثي کورنی هدف وه، چي ستاسو په توضیح انشاء الله، چي دغه اوس به هم دا افغان دښمنه کورنئ په جهنم کي پرته وي. اوس به انتظار وکړو، چي محترمه اماني کورنئ ستاسو د غوښتني په باب څه توضیحات درلودلای شي.

بریالئ اوآباد اوسي.